بسم الله الرحمن الرحيم

وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا

دروس تجوید

لیکونکی او مدرس : قــــاري نور خبر حلیم

ترتیب کــــوونکی : ذکــرالله شیرزی راسب

کال : ۱۳۹۱المریز

بسم الله الرحمن الرحیم

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمَٰنِ الرَّحِيم

لومړۍ لمعه (فصل)

د تجويد د علم تعريف :

لغوي معني :(اِلاتْيانُ بالجَيِد) يعني په يو ښه شي باندي راتګ مطلب داچي په ښه توګه د قرآنکريم لوستل :

اصطلاحي معني :(هُو اداءُ الحرُوفِ مِن مَخۡرجِها الخَاصه لِما مَع جَمِيۡعِ صِفاتِها الازِمه وَالۡعارِضه بِسُهُولۃٍ بِغَيۡرِ کُلۡفه)

تجويد په لغت کې ښايسته کولو ته وايي او په اصطلاح کې هر حرف د خپل مخرج نه اداء کول دي سره د ټولو صفاتو بي له څه تکليف او مشقت نه .

د بِغَيرِکُلفهِ په اړه علماء داسي فرمايي چي په بعضي وختونو کي د انسان رګونه وپرسيږي او يا يي پوزه وپړسيږي يايي رنګ سور شي چي دا د تجويد د قوانينو څخه خلاف کار دي .

علم التجويد (هُو عِلمٌ يُبحَثُ فِيهِ عَن مَخارِجُ الحُروفِ وصِفاتِها)

علم التجويدعبارت د هغه علم څخه دي چې پکې د مخارجواو صفاتو څخه بحث کيږي

د علم تجويد موضوع: ددې علم موضوع د هجاء حروف دي د الف نه تر ياء پوري .

د علم تجويد مقصد: د علم تجويد غرص او هدف د قرآنکريم صحيح لوستل دي .

د علم تجويد فايده : (اَلفوزُسَعادۃُ الدارَينِ) ددواړوجهانونو کاميابي او د الله (ج) رضاء ده

د علم تجويد حکم : د علم تجويد زده کړه فرض کفايي ده او عملورباند فرض عين دي لکه څنګه چې الله (ج) په سورة مزمل کې فرمايلي دي (وَرَتِّلِ الۡقُرۡآنَ تَرۡتِيلًا)

ژباړه :قرآن کريم ښه ورو ورو او په پوره اطمنان سره لوله .

تجويد په مطلق ډول د قرآنکريم الفاظ په صحي توګه لوستل دي او علم التجويد عبارت د هغو قوانينو څخه دي چي مجويدينو د علم التجويد لپاره وضع کړيدي .

دهجا د حروفو مروجه طريقه :

الف ، با ، تا ، ثا ، ج ، حا ، خا ، د ، ذ ، را ، زا ، س ، ش ، ص ، ض ، طا ، ظا ، ع ، غ ، فا ، ق ، ک ، ل ، م ، ن ، و ، هـ ، لا ، ء ، یا ،

د تجوید د اهمیت په اړه له قرآن ، سنت ، او اجماع څخه دلائل:

دتجوید د اهمیت په اړه د قرآنکریم څخه دلائل :

۱ـ الّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَتْلُونَهُ حَقَّ تِلَاوَتِهِ (الایه)البقره ۱۲۱

ژباړه : هغه کسان چي هغوي ته قرآنکريم ورکړل شوي دوي يي لولي لکه څنګه چي د قرآن حق دي .

۲ـ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا (الایه)المزمل ۴ (ولولي قرآنکريم په ترتيل سره)

ددي آيت تفسير امام بيضاوي داسي کوي .(اَي جَوِد القُرآنَ تَجوِيدًا) يعني تاسي قرآنکريم ښايسته کړي په ښايسته کولو سره .

همدارنګه حضرت علي کرم الله وجهه ددي آيت په تفسير کي داسي فرمايي .کله چي ورنه پوښتنه وشوه چي (ماالمُرادُ بِاالتَرتِيل) يعني د ترتيل څخه مراد څه دي (فَقالَ الترتيل هُو التَجويدُ الحروفِ ومعرِفتُ الوقُف) يعني د ترتيل څخه مراد د حروفو او وقفونو پېژندل دي

د تجويد د اهميت په اړه د احاديثو څخه دلائل :

۱ـ (رُبَ قاري يُقرأُ القُرآنَ وَالقُرآنَ يَلْعَنُهُ) يعني ډير کرته قاري قرآنکريم لولي مګر قرآنکريم بيرته ورباندي لعنت وايي . محدثين فرمايي چي دري کسان ورنه مراد دي .

۱- بي عمله قاري چي په قرآنکرم باندي عمل نه کوي ۲ – هغه شيخ يا مفسر چي له ځانه د قرآنکريم تفسير کوي ۳ـ هغه کسان چي قرآنکريم د تجويد د قواعدوخلاف لولي .

۲ـ (انِ اللهَ يُحِبُ اَن يَقرأَ القُرآنَ كَما انزَلَ) اخرجه ابوخزيمه فی صحيحه معني دا چي الله تعالي خوښ ګڼي هغه څوک چي قرآن کريم لولي لکه څنګه چي الله تعالي نازل کړي دي .

دتجوید د اهمیت په اړه له اجماع څني دلائل :

امام جزري ؒ فرمايي(والاَخذُ بِا التجويدِ حَتمُ لازِمٌ مَن لَم يَجوِدِالقُرآنَ اثِمٌ) د تجويد زده كول حتمي او ضروري دي ځوک چي قرآن كريم د تجويد سره نه لولي ګنهګاردي .

د فقاؤ له جملي ملاعلي قاري ؒ فرمايي هذا العِلَمُ لاخِلافَ فيه انهُ فرضٌ كفائي وَ العملُ بِه فرضٌ عينٌ) په علم تجويد كي اختلاف نشته چي دا فرض كفايي دي لكن عمل په تجويد باندي فرض عين دي .

علامه جلالدين سيوطي ؒ په (الاتيان فى علوم القرآن) كی فر مايي لكه څنګه چي د قرآن كريم معني او مفهوم ضروري او تعبدي بڼه لري همدا شان يي په تجويد سره لوستل هم ضروري او تعبدي بڼه لري .

الله تعالي قرآنكريم په اوو طريقو باندي نازل كړيدي لكه څنګه چي رسول الله ﷺ فرمايي (أُنزِلَ القُرآنُ علي سَبعةِ احُرُوفٍ)

ژباړه : الله تعالي قرآنكريم په ۷لهجو ، يا ۷ طريقو ، يا ۷ حرفو باندي نازل كړيدي

زمونږ د قرائت امام امام حفص ؒ دي چي بناغلي په (۹۰) هـ كال په كوفه كي زږيدلي دي او په (۱۸۰) هـ كال كي وفات شوي او استاد يي امام عاصم كوفي تابعي ؒ دي

د جمال القرآن مصنف حكيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهنانوي ؒ دي جمال القرآن ټولي ۱۴ لمعي ، درسونه او يا فصلونه لري .

د قـرآنكـريم د لـوستلو طـريقي:

قرآن كريم په څلوروطريقو سره لوستل كيږي چي په دي ټولو طريقو سره يي لوستل جائز دي چي هغه طريقي عبارت دي له :

۱:- **ترتيل** : لكه څنګه چي يو قاري د مجلس د افتتاح لپارتلاوت كوي.

۲:-**حـدر** : د ترتيل څخه لږپه تيزي سره لوستل كيږي .

۳:-**تدوير** : لكه څرنګه چي قاريان يي په رمضان كي لولي.

۴:- **تحقيق** : يعني د قرآن كريم ثابت لوستل .

هغه طريقي چي د قرآن کريم لوستل پري جواز نه لري عبارت دي له :

۱:- **تطريب** : يعني قرآنکريم د سندرو په شان لوستل .

۲:- **ترقيص** : (قرآنکريم په سکته لوستل، قرآنکريم دحرف مده په شان لوستل).

۳:- **ترعيد** : قران کريم په داسي طريقي سره لوستل لکه څوک چي يخني نيولي وي .

۴:- **تحزين** : قرآنکريم په داسي شکل سره لوستل لکه په چا چي غم يا مشکل وي

دوهمه لمعه :

لحن :

لحن : په لغت کي لب يا لهجي ته ويل کيږي چي موروجه معني يي غلطي کول دي . معني دا چي لحن د تجويد ضد ته ويل کيږي يعني تجويد د قرآن کريم صحيح لوستلو ته وايي او لحن د قرانکريم غلط لوستلو ته وايي .لکه په حديث شريف کي راځي

« "**اقرؤوا القرآن بلحون العرب وأصواتها** »مجمع الزوائد ومنبع الفوائد جز۷ صفحه ۸۴

ژباړه : تاسي قرآن د عربو په لب او لهجو باندي ولولي او همدارنګه د هغوي د آوازونو پشان سره يي ولولي .

لحن په دوه قسمه دي .

لحن جلي : ښکاره غلطي ته وايي او حکم يي حرام دي که په لمانځه کي واقع شي لمونځ فاسدوي .

لحن خفي : يعني پټه غلطي کول چي په هغې باندې فقط قاريان پوهيږي لکه د هغه صفاتو پرېښودل چې هغه د کلېمې د ښايست لپاره وضع شوي وي . حکم يې مکروه دي.

د لحن جلي اقسام :

لحن جلي په پنځه قسمونه لري چې عبارت دي له :

۱:- **تبديل حرف بالحرف** : د يوه حرف په ځاي بل حرف لوستل .

لکه : د الحمد پرځاي الهمد يا د قال پر ځاي کال لوستل .

۲:- **تبديل حرکت بالحرکت** : د يوه حرکت په ځاي بل حرکت لوستل.

لکه : مثلاًد" يُوصَلَ " په کلمه کې " يُوصَلُ"دلام حرف دزورپرځاي پيش تلفظ شي

۳:- **تبديل حرکت بالسکون** : د حرکت بدلول په سکون سره .

لکه : د يُوصَلَ پرځاي يُوصَل لوستل چې لام يې ساکن کړ.

۴:- **مخفف حرف مشدد لوستل د يا مشددحرف مخفف لوستل** .

لکه : الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ کي د ر حرف مشدد ونه لوستل شي

۵:-**د يو حرف زياتول يا کمول** .

لکه : " الْحَمْدُ لِلَّهِ" داسې لوستل " الْحَمْدُولِلَّهِ"دواوحرف ښکاره کړي.

دريمه لمعه :

د تعوذ او بسم الله ويلو حکم او محل

محل د تعوذ : د تعوذ محل ابتدآء يا شروع د تلاوت دي او حکم يې سنت دي او بعضې علماء ورته واجب وايې د وجوب دليل يې لاندې آيت شريف بولي .

فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ الايه نحل ۹۸

د بسم الله محل : د بسم الله محل ابتدآء د سورة دي او حکم يي سنت دي.

د قـــرآن کـــريم د لـــوستلو طـــريقي :.

۱:- **ابتداء د تلاوت او ابتداء د سورت** : چې ديته تعوذ او بسم الله دواړه ضروري دي ځکه چې ددې دواړو محلونه موجود دي.

۲:- **ابتداء د تلاوت د سورت په منځ کې** : دلته تعوذ لوستل ضرور دي ځکه چې محل يې موجود دي او د بسم الله په ويلو کې اختيار دي.

۳:- **ابتداء دسورت دتلاوت په منځ کې** : دلته د بسم الله لوستل ضروري دي ځکه چې محل يې موجود دي او د تعوذ په لوستلو کې اختيار دي .

تعوذ او بسم الله د وصل او فصل له لحاظه څلور طريقې لري:

۱:- **وصل کل** : يعنې بسم الله ، اعوذ باالله او سورت په يوه ساه سره لوستل .

۲:- **فصل کل** : يعنې هر يو بيل بيل لوستل کيږي .

۳:- **وصل اول فصل ثاني** : تعوذ او بسم الله په يوه ساه سره ولوستل او سورت په بله ساه سره لوستل چې دا طريقه غير جايزه ده ..

۴:- **فصل اول وصل ثاني** : يعنې تعوذ ځانته ولوستل شي او بسم الله او سورت په بله ساه سره ولوستل شي

د سورت برات په سر کي بسم الله نده ذکر شوي علماء يي ځواب داسي کوي . .

الف: د سورت انفال او سورت برات مضامين سره برابر دي .

ب: د بسم الله د رحمت آيت دي او د سورت برات په سر کې بې زاري ده دالله (ج) او د هغه د رسول (ص) د کفارو څخې نو له دي وجي نه يې د سورت برات په سرکې بسم الله ذکر نه کړه . نو د سورت برات د لوستلو په وخت کې دري حالته جواز لري .

۱- وصل : يعنې آخر د سورة انفال او شروع د سورة برات .

۲- فصل : يعنې دواړه جدا جدا ولوستل شي .

۳- سکتنه : يعنې ساه قطعه شي خو آواز جاري وي .

څلورمه لمعه

د حـــرو فـو مخــرجـو نه (مخارج الحروف):

مخرج : په وزن د مفعل دي چي د وتلو ځاي ته وايي يعني په لغت کي د وتلو ځاي ته ويل کيږي او په اصطلاح کي د کومو ځايونو څخه چي حروف اداء کيږي هغي ته مخارج ويل کيږي نو بنا په اختلاف ټول مخارج ۱۷ دي .

۱:- امــام فــراه وايــي ټــول مخــارج ۱۴ دي .

۲:- امــام سبــويه وايــي ټــول مخارج ۱۶ دي .

۳:- امام خليل بن احمدوايي ټول مخارج ۱۷ دي .چې همدا غوره مذهب دی .

د مخارجو ډولونه :

الف : **مخارج محقق** :هُو جز معين من اجزاء الحلق والسان والشفتين هغه مخرج ته وايي چي د هغي لپاره په حلق ، ژبه او يا شنډو کي يو معين جز وي

ب:- **مخارج مقدر** : د هغه مخرج څخه عبارت دي چي د هغي لپاره کوم معين ځاي نه وي .لکه جوف دهن (دخولي خليګاه) ، خشيوم .

د محققه مخرجونو تعداد پنځلس دي او د مقدره مخرجونو تعداد دوه دي مطلب دا چي ټول مخرجونه ۱۷ دي ۱۵ محقق او ۲ مقدر.

حرف : تعريف: (هو صوت يعتمد علي مخرج محقق او مقدر) د هغه اواز څخه عبارت دي چي اعتماد وکړي په مخرج محقق او يا مخرج مقدرباندي او ټول حروف ۲۹ دي .

د مخـــارجـــو اصـو ل :

د مخارجو اصول دري دي چې عبارت دي له :

۱- حلق ۲- لسان ۳- شفتين

په حلق کې دري مخرجونه دي چې شپږ حروف ورڅخه اداء کيږي او په لسان کې لس مخرجونه دي چې ۱۸ اتلس حروف ورڅخه اداء کيږي او په شفتينو کې دوه مخرجونه دي چې ۴ څلور حروف ورڅخه اداء کيږي .

اول مخرج : د خولي خاليګاه ده چې دري حروف ورڅخه اداء کيږي او هغه عبارت دي له «حروف مده « واو ،الف ،يا »

دوهم مخرج : اقصاي حلق دي چې ددي څخه دوه حروف اداء کيږي چې عبارت دي له «همزه .ها».

دريم مخرج : وسط حلق دي چې ددې څخه هم دوه حروف اداء کيږي لکه . « ع ، ح »

څلورم مخرج : ادني حلق دي چې ددې څخه هم دوه حروف ادآء کيږي لکه . « غ ، خ »

او دې شپږواړو حروفو ته حروف حلقي يا د اظهار حروف هم ويل کيږي .

پنځم مخرج : (ق) کله چې د ژبې بيخ د پاسنۍ وړوکې ژبۍ سره ولګيږي (ق) ادآء کيږي .

شپږم مخرج : (ک)..د ق د مخرج نه لږد خولې طرف ته د (ک) حرف اداء کيږي نو د (ق ،ک) حروفو ته حروف لهاتيه هم ويل کيږي چې لهاة په عربي کې وړوکې ژبې ته وايي

اووم مخرج : (ج ،ش، ي) ..کله چې د ژبې بيخ دپاس تالو سره ولګيږي نو ددې څخه دا درې حروف اداء کيږي مګر يا پکې غير مده (يا)ده چې دې حروفو ته حروف شجريه هم ويل کيږي او شجر په عربي ژبه کې ونې ته ويل کيږي .

د نورو حروفو د مخارجو د بيان نه وړاندې د غاښونو بيان ضروري دي ځکه د باقي حروفو مخارج اکثره په غاښونو پوري تعلق لري .

د غـاښـو نـو ډ و لـو نـه

ټول غاښونه ۳۲ دانې دي چې ۱۶ په پاسنې ژامه او ۱۶ په لانديې ژامه کې واقع دي چې ثنايا ،رباعيات ،انياب ،ضواحک ، طواحن ،اضراس ،نواجذ ورته ويل کيږي .

ثنايا غاښونه په دوه ډوله دي

الف : **ثنايا عليا** : داپه پاس ژامه کې مخامخ دوه غاښـــونه دي

ب: **ثنايا سفلـې** : داپه لاندنې ژامه کې مخامخ دوه غاښونه دي .

ددې سره په څنګ کې د رباعيات غاښونه دي چې دوه پاس ژامه کې او دوه په لاندينۍ ژامه کې واقع دي .

ددې سره په څنګ کې انياب غاښونه واقع دي چې دوه په پاس ژامه کې او دوه په لاندينۍ ژامه کې واقع دي انياب جمع د نيب ده او نيب سوري کولو ته وايې .

د انیاب سره په څنګ کې ضواحک غاښونه واقع دي چې دوه په پاس ژامه کې او دوه په لاندینۍ ژامه کې واقع دي ضواحک ورته ځکه وایی چی د خندا په وخت کی ښکاري.

د ضواحک سره څنګ کي طواحن غاښونه واقع دي چې شپږ په پاس ژامه کې او شپږ په لاندینۍ ژامه کې واقع دي .طواحن ورته ځکه وایی چی ډوډۍ میده کوي .

د طواحي سره په څنګ کې بیا نواجذ غاښونه واقع دي چې دوه غاښونه په پاس او دوه په لاندینۍ ژامه کې واقع دي چی دا غاښونه د عقلمندو خلکووی .

ثنایا : ۴ دي. رباعیات ۴ دي . انیاب ۴ دي .

ضواحک : ۴ دي . طواحن ۱۲ دي . اضراس نواجذ ۴ دي .

د ضواحک،طواحن ،نواجذ غاښونو مجموعې ته اضراس هم ویل کیږي

اتم مخرج : (ض)..کله چې د ژبې غاړه (حافة لسان) د اضراس علیا غاښونو سره ولګیږي نو د ض حرف اداء کیږي د ض حرف نوم اضعص الحروف دي یعنې ترټولو حروفو نه په سختۍ سره اداء کیږي.

نهم مخرج : (ل)..کله چې د ژبې څنګ د ثنایا ،رباعیات، انیاب ،او ضواحکو سره ولګیږي نو د لام حرف اداء کیږي .

لسم مخرج : (ن).. د لام مخرج ته نږدې اداء کیږي خو ضواحک غاښونه ورځنې جدادي .

یولسم مخرج : (ر) .. دا هم د نون مخرج ته نږدې اداء کیږي فرق پکي دادي چې پدې کې د ژبې شاه برخه لري دې حروفو « ل ، ن ، ر » ته حروف ذلقیه هم ویل کیږي .

دولسم مخرج : (ط ، د ، ت)کله چې دژبې څوکه د ثیایا علیا د بیخونو سره ولګیږي نو له دې ځخه دري حروف ادآء کیږي چې دې حروفو ته حروف نطعیه هم ویل کیږي

دیارلسم مخرج : (ظ ،ذ ، ث) کله چې د ژبې څوکه د ثنایا علیا د سر سره ولګیږي نو دا دري حروف ورڅخه اداء کیږي چې دي حروفو ته حروف لثویه هم ویل کیږي .

څوارلسم مخرج : د ص ، ز، س) کله چې دژبې سرد ثنایا سفلې د کناروا و څنګونوا و څه اتصال د ثنایا علیا سره ولګیږي نو دا حروف ورڅخه اداء کیږي چې د ي حروفو ته حروف صفریه هم ویل کیږي .

پینځلسم مخرج : (ف) ..کله چې د لاندې شنډې خیټه د پاسنې شنډې د بهرنې حصې سره ولګیږي د ف حرف ورڅخه اداء کیږي .

شپاړسم مخرج : (ب ، م ، و) دا حروف د دواړو شنډو څخه اداء کیږي چې د ې حروفو ته حروف شفویه هم ویل کیږي .

ب : د بې حرف ته بهري هم ویل کیږي ځکه چې د شنډې د لمدې برخې څخه ادآء کیږي .

م : د میم حرف ته بري هم ویل کیږي ځکه چې د شنډې د وچې برخې څخه ادآء کیږي .

و : کله چې دواړه شنډې په داسې شکل سره یو ځاي شي چې سره ونه چسپیږي نو د واو حرف ورڅخه ادآء کیږي .

اوولسم مخرج : (خشیوم) ..مطلب ورڅخه غنه ده چې د غنې حقیقت د نون مخفي څخه عبارت دي .

پنځمه لمعه :

دحروفو صفات

صفت : په لغت کې (ماقام بشئ من المعاني) یعنې د معانیوپه لحاظ چې یو شي په بل شي پورې قائم وي .لکه عالم ـ او سپینوالئ چې د علم تحقق بغیر د عالم نه نه کیږي او د سپینوالي تحقق بغیر د سپین شي څخه نه کیږي .

په اصطلاح (الصفة هي کیفِیةُ عارِضَةُ للحرفِ عِندَ حصولهِ في المحرجِ من الهمسِ والجهر ورخوةِ والشدة) یعنې صفت هغه حالت او کیفیت دي چې د حروفو د مخرج نه دحرف د ادآء کولو په وخت کې مخې ته راځي لکه د حرف باریک ، ډک ، مشدد، یا مخفف لوستل .

صفات په دوه ډوله دي : ۱ - صفات لازمه ۲- صفات عارضه

الف: صفات لازمه : (لا يقبل الانفكاک في كل حال) چي په هيڅ وخت کي انفکاک (جداوالي) نه قبلوي او مجموعه ۱۷حروف راځي

یا عبارت د هغه صفاتو څخه دي چې د حرف نه په هیڅ صورت کې نه جداء کیږي که دا صیفت په حرف کې ادآء نه شي نو حرف په خپل حال نه پاتې کیږي او بل حرف ورڅخه جوړیږي یعنې ناقص اداء کیږي لکه : په (ظ) حرف کې د استعلاء او اطباق صفت دې که دا صفت پکې ادآء نه شي نو د ظ حرف نه د(ذ) حرف جوړیږي نو له دې وجهې نه دا صفات په حروفو پورې لازم دي .

ب: صفات عارضه : هغه صفات دي چې په بعضې حروفو کې په بعضې اوقاتو کې راځي او بعضې اوقاتو کې نه راځي او که چیرته دا صفات ادآء نه شي په حرف کې تغیر نه راځي او په خپل حال پاتې کیږي مګر ددې حرف چې کوم زینت او حسن دي هغه ورسره ختمیږي ددغې وجهې نه دې صفاتو ته مزینه ،محسنه،محلیه ،او عارضه وایي . .

د لازمه صفاتو اقسام :

لازمه صفات ټول (۱۷) قسمه دي چې لس پکې متضاد دي او اوه پکې غیر متضاد دي.

لازم متضاد دا معنې چې یو د بل ضد واقع شوي وي معني دا چې پنځه صفات د پنځو نورو صفاتو ضد واقع شي او غیر متضاد صفات هغه صفات دي چې ضد نه لري متضاد صفاتو ته متمیزه ، ذاتیه او مقومه هم وایي .

کوم لس صفا ت متضاده چې ذکر شول همس د جهر ضد دي یعنې کومو حروفو کې چې د همس صفت موندل کیږي په هغه کې جهر نه راځي همدارنګه شدت د رخوة ضد دي خو ددې دواړو تر منځ یو بل صفت دي چې هغې ته توسط وایې همدارنګه استعلاء د استفال ضد دي او اطباق د انفتاح ضد دي او اذلاق د اصمات ضد دي او صفات غیر متضاد باالمقابل ضد نه لري ځکه د هغوي ضد بیان نه شوهمدارنګه صفات غیر متضاده ته مزینه ،محسنه او محلیه هم وایي . .

۱: **همس** : همس په لغت کې د آواز ټیټ والي ته وایي او د مجویدینو په اصطلاح کې د مهموسه حروفو د ادآء کولو په وخت کې آوازپه مخرج کې په داسې ضعف سر ه

اودریږي چې نفس جاري وي خو آواز کې يو قسم ته پستې او ټيټوالې وي او په کومو حروفو کې چې د همس صفت موندل کيږي هغو حروفو ته مهموسه حروف ويل کيږي او دا صفت په لس حروفو کې موندل کيږي چې عبارت دي له (فحثه شخص سکت)

۲ :**جهر** : په لغت کې د آواز اوچتوالي ته وايي او په اصطلاح کې ددي حروفو د ادآء کولو په وخت کې آوازپه مخرج کې په داسي قوت سره اودریږي چې ددې وجهي نه نفس بنديږي او آواز کې يو قسم ته اوچتوالي وي او کومو حروفو کې چې د جهر صفت موندل کيږي دي حروفو ته مجهوره وايي او د مهموسه نه علاوه باقي ټول حروف مجهوره دي چې هغه نولس حروف دي او د همس ضد دي .

۳: **شدت** :: شدت په لغت کې سختوالي ته وايي او په اصطلاح کې ددي حروفو د ادآء کولوپه وخت کې اواز په مخرج کې په داسي سختي او قوت سره اودریږي چې په دي سره آواز بنديږي او حرف يي قوي او سخت ادآء کيږي او دا صفت په آتو حروفو کې رآځي چې مجموعه يي ده (اجدک قطبت) يا (اجد قط بکت) نو په کومو حروفو کې چې دا صفت راځي هغوي ته شديده وايي .

توسط : د شدت او رخوة تر منځ توسط يو صفت دي چې ددې لغوي معنې ده چې په منځ کې واقع کېدل دي او په اصطلاح کې ددې مقصد د شدت او د رخوة منځنۍ حالت دي يعنې ددې حروفو د آدا ء کولو په وخت کې آوازنه دومره سخت وي لکه د شدت غوندې او نه دومره نرم وي لکه د رخوة غوندې يعنې د شديده غوند ې آواز فوراً نه بنديږي او نه د رخوة غوندې آواز بالکل جاري پاتې کيږي. بلکه يو منځنې حالت غوره کوي او دا صفت په پنځو حروفو کې راځي چې مجموعه يي (لن عمر) ده او د ي پنځو حروفو ته حروف متوسطه وايي .

۴ : **ر خوة** .. په لغت کې نرمي ته وايي نو د شدت او توسط د حروفو نه علاوه نورټول حروف په نرمۍ سره ادآء کيږي .

۵ : **استعلآء**.. استعلاء اوچتوالي ته وايي نود مستعليه حروفو د اداء کولو په وخت کې د ژبې بيخ پورته تالو طرف ته اوچتيږي چې ددې حروفو مجموعه ده (خص ضغط قظ)

۶: **استفال** :په لغت کې لاندې پاتې کيدلو ته وايي او په اصطلاح کې د مستفله حروفو د اداآء کولو په وخت کې د ژبې بيخ د پورته تالو طرف ته نه اوچتيږي د مستعليه حروفو نه باقي نور ټول د استفال حروف دي.

۷:**اطباق** .. په لغت کې ښه پيوسته کيدلو ته وايې په اصطلاح کې د مطبقه حروفو د اداآء کولو په وخت کې د ژبې بيخ د پورته تالو سره پيوسته کيږي او حروف يې دادي (ص،ض، ط،ظ)

۸: **انفتاح** : انفتاح په لغت کې خلاصيدلو او جداپاتې کيدلو ته وايي او په اصطلاح کې د دې حروفو د اداآء کولو په وخت کې د ژبې اکثره برخه د تالو سره نه پيوسته کيږي او لاندې جدا پاتې کيږي نو د مطبقه حروفو نه علاوه نور ټول حروف منفتحه حروف دي .

۹: **اذلاق** ..په لغت کې تيزوالي ته وايي او په اصطلاح کې مذلوقه حروف په اسانې سره د شنډې يا د ژبې له څنګ څخه اداء کيږي او د ا شپږ حروف دي (فرمن لب)

۱۰: **اصمات** : په لغت کې په معنې د منع کولو سره راځي او په اصطلاح کې ددې حروفو د اداء کولو په وخت کې لږڅه ګراني او سختوالي محسوسيږي نو د مذلقه حروفو نه علاوه نور ټول حروف مصمته دي .

لازم غيــر متضـا د ه صــفـا ت :

۱۱ : **صفير** .. صفير د شپېلۍ په معنې سره دي چې حروف يې عبارت دي له (ص ، ز ، س)

۱۲: **قلقله** .. قلقله په لغت کې جنبش او حركت ته وايي او حروف يې عبارت دي له : (ق،ط ، ب ، ج ، د) (قطب جد) په ق حرف کې قلقله واجب ده چې وشي

۱۳ : **لين** ..په لغت کې نرمۍ ته وايي او په اصطلاح کې دا حروف د اداآء کولو په وخت کې ډير په نرمۍ سره اداآء کيږي او دا دوه حرفه دي (و ، ي) په هغه صورت کې د لين حرف بلل کيږي چې کله دوي ساکن او ماقبل حرف يې مفتوح وي لکه (خَوْفٌ ، وَالصَّيْفِ

۱۴ : **تفشي** .. په لغت کې انتشار او خپريدو ته وايي او په اصطلاح کې د ش د حرف د اداآء کولو په وخت کې اوآز په خوله کې منتشر کيږي کله (الْمَنفُوشِ)

۱۵ : **انحراف** : په لغت کې اوړيدل او مايل کيدلو ته وايي او په اصطلاح کې د منحرفه حرف د اداء کولو په وخت کې اواز د حافه لسان نه رأس لسان طرف ته ميلان کوي.چې داقسم غلطي معمولا د ماشومانو نه منځ ته راځي او د انحراف صفت په (ل،ر) کې موجود دي .

۱۶ : **تکرير** . په لغت کې يوشي څو څو واري تکرارولو ته وايي.چې داصفت يوازي د (ر) په حرف کې موجود دي او بس .

۱۷ : **استطالت** : په لغت کې طلب د اوږدوالي ته وايي او په اصطلاح کې د استطالت د حرف د ادآء کولو په وخت کې د مخرج د شروع نه د مخرج تر پايه آواز په تدريج سره اوږديږي چې حرف يې (ض) دي .

حروف د قوت او ضعف په اعتبار سره په لاندي ډول دي .

الف : اقواه حروف (ط ، ظ ، ق ، ض)

ب : قوي حروف (ج ، ص ، غ ، ز ، ب ، د ، ر)

ج : متوسط حروف (ر ، ت ، ذ ، ع ، ک ، ء ، ا ، با ، خا)

د : ضعيف حروف (س ، ل ، ش ، و ، ي)

هـ : اضعف حروف (م ، ف ، هـ ، ثا ، حا ، ن)

شپږمه لمحه:

عارضه صفات

عبارت د هغه صفاتو څخه دي چې کله په حرف کې موجودوي او کله نه وي موجود لکه څنګه يي چې مخکې بيان وشو .صفات عارضه اجمالا په ديارلس ډوله دي

پورتني صفات په دوه ډوله دي

الف : عارض بالصفت ب : عارض بالحرف

د عارض بالصفت څخه مطلب دادي چې هغه صفت عارضه چې د کوم عارضي صفت د وجهې نه پيدا شوي وي مثلا مخکې مونږ وويل چې د خص ضغط قظ څخه علاوه نور ټول حروف باريک لوستل کيږي نو اوس (الف ، لام ، ر) داسي حروف دي چې هميش باريک نه لوستل کيږي نو په بعضې حالاتو کي ډک هم تلفظ کيږي نو په کومو حالاتوکې چې ډک تلفظ کيږي هلته صفت استعلاء عارض کيږي چې د هغې له وجهې نه دا حرف ډک لوستل کيږي نو په (الف ، لام ، ر) حروفو کې تفخيم صفت عارضه دي چې د يو لازمي صفت له وجهې نه پيدا شوي دي .

او عارض بالحرف څخه مطلب دادي چې د يوحرف د يو ځاي کيدوله وجهې نه پيدا کيږي لکه اظهار...چي د نون ساکن او تنوين څخه وروسته يي حروف راشي

. **دلازمه متضاده صفاتو جدول**:

د

شماره	صفت	حروف	توسط	ضد
۱	همس	فحثه شخص سكت		جهر
۲	شدت	اجدک قطبت اجد قط بكت	د توسط حروف دا دي لن عمر	رخوة
۳	استعلاء	خص ضغط قظ		استفال
۴	اطباق	ص ض ط ظ		انفتاح
۵	اذلاق	فرمن لب		اصمات

صفت غيرمتضاده	حـــــــروف
صفير	ص ز س
قلقله	قطب جد
لين	ي و
انحراف	ل
تفشي	ش
تكرير	ر
استطالت	ض

د صفات الحروف او مخارج الحروف جدول په لاندي ډول سره دي :

حرف	مخارج الحروف	القاب الحروف	صفات الحروف
ا	جوف دهن ، د خولي د خاليګا نه ادا کيږي	جوفيه	جهر ،شدت ، استفال ، انفتاح، اصمات
ب	د دواړو شنډو د لمدي حصي نه اداء کيږي	شفويه(ف،ب،م،و)	جهر ،شدت ، استفال ، انفتاح، اصمات
ت	د ژبې څوکه دثنايا عليا د سرسره لګيږي	نطعيه	همس، ،شدت ، استفال ، انفتاح، اصمات
ث	دژبې څوکه ثنايا عليا د سره سره لګيږي	لثويه	همس، ،شدت ، استفال ، انفتاح، اصمات
ج	دژبې د منځ او دمقابل تالو نه ادآء کيږي	شجريه(ج،ش،ی)	جهر ،شدت ، استفال ، انفتاح، اصمات
ح	د وسط حلق نه ادآء کيږي	حلقي	همس،رخوة ، استفال ، انفتاح، اصمات
خ	د ادني حلق نه ادآء کيږي	حلقي	جهر ،شدت ، استعلا ، انفتاح، اصمات
د	دژبې څوکه د ثنايا عليا د بيخ سره لګيږي	نطعيه(ط،د ،ت)	جهر ،شدت ، استفال ، انفتاح، اصمات
ذ	دژبې څوکه د ثنايا عليا د سرونو سره لګيږي	لثويه(ث،ذ ،ظ)	جهر ،رخوة ، استفال ، انفتاح، اصمات
ر	د نون مخرج ته نږدي خو دژبې شا پکي ده	طرفيه ذلقيه	جهر، رخوة،استفال،انفتاح،اذلاق
ز	دژبې سر د ثنايا سفلي د بيخونو سره لګيږي	صفريه(ص،ز،س)	جهر، رخوة،استفال،انفتاح،اصمات
س	دژبې سر د ثنايا سفلي د بيخونو سره لګيږي	صفريه	جهر، رخوة،استفال،انفتاح،اصمات
ش	دژبې بيخ د مقابل تالو سره لګيږي	شجريه	همس، رخوة،استفال،انفتاح،اصمات
ص	د ژبې سرد ثنايا سفلي د بيخونو سره لګيږي	صفيريه	همس،رخوة،استعلا ،اطباق،اصمات
ض	دژبې اړخ د اضراس عليا د بيخونو سره لګيږي	حافيه	جهر، رخوة،استعلا ،اطباق ،اصمات
ط	دژبې څوکه دثنايا عليا د بيخونو سره لګيږي	نطعيه	جهر، شدت،استعلا ،اطباق ،اصمات
ظ	دژبې څوکه د ثنايا عليا دغاړي سره لګيږي	لثويه	جهر، رخوة،استعلا ،اطباق ،اصمات
ع	وسط حلق نه اداء کيږي	حلقي	جهر، رخوة،استعلا ،انفتاح ،اصمات
غ	ادني حلق	حلقي	جهر، رخوة،استعلا ،انفتاح ،اصمات
ف	دثنايا علي غاړه د لاندي شنډي سره لګيږي	شفويه	همس،رخوة،استعلا ،انفتاح ،اصمات
ق	دژبې بيخ د بر تالو سره لګيږي	لهاتيه	جهر،شدت،استعلا ،انفتاح ،اصمات
ک	د ق مخرج نه لاندي د خولي ظرف ته ادآء کيږي	لهاتيه	همس،شدت،استفال،انفتاح،اصمات
ل	دژبې طرف د پاس غاښونو سره لګيږي	طرفيه ذلقيه	جهر، رخوة،استفال،انفتاح،اذلاق
م	د دواړو شنډو د وچي حصي نه ادآء کيږي	شفويه	جهر، رخوة،استفال،انفتاح،اذلاق
ن	د لام مخرج ته نږدي فقط ضواحک پکي نشته	طرفيه ذلقيه	جهر، رخوة،استفال،انفتاح،اذلاق
و	د دواړو شنډو د ګول کيدلو نه ادآء کيږي	شفويه	جهر، رخوة،استفال،انفتاح،اصمات
ه	اقصي حلق نه اداء کيږي	حلقي	همس، رخوة،استفال،انفتاح،اصمات
ي	دژبې بيخ د پاس تالو سره لګيږي	شجريه	جهر،رخوة،استفا ،انفتاح،اصمات

اوومه لمعه :

د لام د تفخيم او ترقيق حالات :

د لام نه مقصد لفظ د الله (ج) دي او نورټول لامونه باريک او تش لوستل کيږي نو لفظ د الله او اللهم لاندي حالاتونه لري :

۱:- که لفظ د الله او الهم نه مخکې فتحه وه نو دا لفظ ډک تلفظ کيږي

لکه : « هُوَاللّٰهُ ، نَارُاللّٰهِ الْمُوقَدَةُ »

۲:-که د لفظ الله او الهم نه مخکې کسره وه باريک اداء کيږي لکه :بِسمِ الله – قُلِ اللهُم

۳:-همدارنګه که د"لام" نه مخکې حرف ساکن وي له هغه مخکې حرف زوريا پيښ ولري پدې صورت کې هم د "لام" توري ډک اداکيږي لکه :« عَلَى اللّٰهِ ، أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ »

۴:-که "لام" نه مخکې حرف زيرولري ياد "لام" نه مخکې ساکن دهغه مخکې حرف زيرولري ترقيق کيږي يعني "لام" تش اداء کيږي لکه : « قُلِ اللّٰهُمّ ، وَيُنَجِّي اللّٰهُ »

اتمه لمعه :

د (را) د تفخيم او ترقيق حا لتونه :

را اجمالا دوه حالته لري : الف : تفخيم (ډک لوستل) ب : ترقيق (باريک لوستل)

د (را)تفخيم حالتونه:

۱:- را: د "را" توري که چيري زوريا پيښ ولري ياد "را" حرف خپله ساکن مخکې حرف يې زبريا پيښ ولري نوپدې صورت تفخيم کيږي يعني "را" ډکه تلفظ کيږي

.لکه: « رَبُّكَ ، رُزِقُواْ ، مَرْفُوعَةٌ ، عُرُفاً »

۲ :- را مضمومه ، مفتوحه او يا مشدده وي نو پدي صورتو کې هم ډکه لوستل کيږي .

لکه : « رُزِقُوا ، وَرَعْدٌ ، فَفِرُّوا »

۳ : - را چې کله ساکنه وي او ماقبل يې مضموم او يا مفتوح وي په دي صورت کي هم ډکه لوستل کيږي . لکه : « يُرْزَقُونَ ، وَبَرْقٌ ، وَمَا أُرْسِلُوا »

۴: - را ساکنه وي او ماقبل يې کسره عارضي راغلې وي نو را ډکه لوستل کيږي

لکه : « ارْجِعُوا إِلَىٰ أَبِيكُمْ ، ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ »

۵ : - را ساکنه مخکې ورنه کسره اصلي منفصله راغلې وي نو را ډکه لوستل کيږي . لکه : « رَبِّ ارْجِعُونِ »

او کله کسره عارضي هم وي او منفصله هم وي لکه : (أَمِ ارْتَابُوا ، إِنِ ارْتَبْتُمْ)

۶:- را ساکنه وي او ماقبل يې کسره اصلي وي خو وروسته ورڅخه په يو کلمه کې د مستعليه حروفو څخه کوم حرف راغلي وي نو دلته هم ډکه لوستل کيږي لکه : مِرصَاد ، قِرطَاس ، فِرقَة ، لبالمِرصَاد ،اِرصَاد آ ، خو مستعليه حرف به مفتوح وي

خو که حرف مستعليه د را څخه وروسته په يوه کلمه کې نه ؤ راغلي نو را باريکه لوستل کيږي لکه : (فَاصْبِرْ صَبْرًا)

۷:- را ساکنه وي او ماقبل يې هم ساکن وي خوماقبل يې مضموم او يا مفتوح وي نو را ډکه لوستل کيږي لکه : (الْقَدْرِ . الْعُسْرِ ، الْأَنْهَارُ)

د (را) د ترقيق حالتونه :

۱:- چې را مکسوره وي نو باريکه لوستل کيږي لکه : « رِحْلَةَ »

۲– "را" ساکنه اومخکې حرف يې اصلي کسره ولري او يا وروسته ورنه حرف مستعليه نه وي راغلي "را" باريکه لوستل کيږي لکه : فِرْعَوْنَ ، « شِرْعَةً ، مِرْيَةٍ »

۳:- را ساکنه وي ماقبل يې هم ساکن وي او ما قبل يې مکسور وي نو را باريکه لوستل کيږي لکه: « قَسَمٌ لِّذِي حِجْرٍ ، وَلَا بِكْرٌ » خو دا د وقف په حالت کې راځي .

۴:- را ساکنه وي او ماقبل يې يا ساکنه وي لکه : « خَيْرٌ ، قَدِيرٌ »

۵: - را مماله مطلب هغه را چې اماله پکې شوي وي لکه : (بِسْمِ اللَّهِ مَجْرَاهَا)

اماله : په لغت کې میلان ته وایي او د تجوید په اصطلاح کې الف مده د یاي مده طرف ته مایل کیږي او د امام حفص(رح) په نزد په قرآنکریم کې یو ځای راغلی

اماله په دوه ډوله ده : اماله صغری اماله کبری

په لاندي ځایونو کې اختلاف دي بعضي وایي ډک لوستل کیږي بعضي وایي تش

چې هغه ځایونه عبارت دي له : مِصْرَ ، فِرْقٍ ، عَيْنَ الْقِطْرِ

د الف د تفخیم او ترقیق حالتونه :

که چیري د الف څخه مخکې حرف استعلاء راغلي وي نو الف هم ورسره ډک لوستل کیږي لکه : (خَالِدُونَ ، الصَّالِحِينَ)

همدارنګه په لفظ د الله او اللهم کې هم الف ډک لوستل کیږي او که چیرې د الف څخه مخکې حرف باریک لوستل کیده نو الف هم ورسره باریک لوستل کیږي

لکه : (النَّاصِرِينَ)

د حروفو د تفخیم مرتب

نهمه لوست :

د ساکن میم احکام

۱- ادغام ۲- اخفاء ۳-اظهار

ادغام : کچري د ساکن میم نه وروسته بل میم راشي نومیم په میم کې ادغامیږي اودیوه حرکت به اندازه غنه پکې کیږي لکه (وَمِنْهُمْ مَنْ) (كَمْ مِنْ) (لَهُمْ مَغْفِرَةً

اخفاء : کله چې د ساکن میم نه ورسته د (ب) حرف راشي له غني سره اخفاکیږي.

مثال : (هُمْ بَارِزُونَ) (كَلْبُهُم بَاسِطٌ) (إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ)

اظهار : دادغام او اخفا له حروفو (م،ب) پرته باقي د اخفا حروف دي که له ساکن میم وروسته راشي پکي اظهار کیږي لکه : أَنَّ لَهُمْ جَنّتٍ ، أَمْ حَسِبْتُمْ ، أَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

په عمومي ډول د ادغام اقسام :

دصرفیانو په اصطلاح کې که دوه همجنس توري په یوه کلمه کې په پرله پسې ډول راشي په داسې حال کې چې لومړي یې ساکن اودوهم متحرک وي نو ادغام منځته راځې لومړي توري په دوهم کې مدغم کیږي او دا ډول ادغام په دري ډوله دي:

۱ - **ادغام متجانسین :** که دوه توري له یو جنس (یو مخرج) مخالف صفت په یوه کلمه کې پرله پسي راشي دجنسینو ادغام منځته راځي

لکه : قَدْتَّبَيَّنَ ، اِرْكَبْ مَّعَنَا ، يَلْهَثْ ذّلِكَ ، وَدَّت طَّآئِفَةٌ

۲ -**ادغام مثلین** :که دوه یوشان توري په یوه کلمه کې په پرله پسي ډول راشي هلته د مثلینو ادغام کیږي :

لکه : إِلَيْكُمْ مُّرْسَلُونَ ، فَمَارَبِحَت تِّجَارَتُهُمْ ، وَقَدْ دَّخَلُوا ، إِذْذَّهَبَ مُغَاضِباً

۳ -**ادغام متقاربین** : که دوه داسې توري په یوه کلمه کي پرله پسې راشي چې مخرجونه یې سره نژدي وي او صفتونه یې سره مخالف وي هلته د متقاربینو ادغام کیږي .

لکه : أَلَمْ نَخْلُقكُّم ، وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْم ، بَل رَّفَعَهُ اللّهُ

ادغام د کیفیت په لحاظ سره په دوه ډوله دي :

ادغام تام : هغه ادغام دي چې کله دوه توري په یو بل کي سره مدغم شي ترادغام وروسته دلومړي توري هیڅ اثرپاتي نه شي .

لکه : أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا ، مِّن رَّبِّهِمْ

ادغام ناقص : ددؤوتوروداسې ادغام چې لومړي ساکن اودوهم متحرک وي ترادغام وروسته دلومړي توري صوت یاآوازپاتې شي لکه مِن وَاقٍ ، مَن يَقُولُ

د لام تعریف احکام

لام تعریف دوه احکامه لري

الف : اظهار   ب : ادغام

کله چي د لام تعریف نه ورسته قمري حروف راشي هلته اظهار کیږي .

قمري حروف : (ابغ حجک وخف عقیمه) لکه : (بِالْبُخْلِ ، الْقَدْرِ ، الْكَوْثَرَ ، الْعَالَمِينَ)

کله چي د قمري حروفو نه غیر نور حروف د لام تعریف نه وروسته راشي هلته ادغام کیږي .لکه : (التَّوْبَةَ ، الشَّمْسُ ، الرَّحْمَٰنِ ، النَّاسِ)

چې دي قسم اظهار ته اظهار قمري او ادغام ته يي ادغام شمسي ويل کيږي

د ساکن نون اوتنوین احکام:

ساکن نون اوتنوین څلوراحکام لري. ادغام ، اقلاب ، اخفاء او اظهار

اظهار: اظهارپه لغت کې څرګندولوته وايي،اودعلم تجويدپه اصطلاح کې ددوه توروجلاکول دي،داسې چې دساکن نون اوتنوين څخه وروسته دحلقي حروفو (ء،ه،خ،ح،ع،غ) څخه یوحرف راشي،ساکن نون یاتنوین ښکاره لوستل کیږي .

لکه :

ء ،ا :	يَنْأَوْنَ	مَنْ اٰمَنَ	كُلٌّ اٰمَنَ
ه :	مِنْهُمْ	اِنْ هُوَ	فَرِيقاًهَدي
ع :	اَنْعَمْتَ	مَنْ عَمِل	سَمِيعٌ عَلِيمٌ
ح :	تَنْحِتُونَ	فَمَنْ حَجَّ	حَكِيمٌ حَمِيدٌ
غ :	فَسَيُنْغِضُونَ	مِنْ غِلٍّ	قَوْلاًغَيْرَ
خ :	اَلْمُنْخَنِقَةُ	مِنْ خَيْرٍ	حَكِيمٌ خَبِيرٌ

ساکن "ن"هغه دي چې حرکت (زور،زیراوپیښ) ونه لري یعني غړوندي واله "نٗ"دي اوتنوین دوه زورونه،دوه زیرونه اودوه پیښونوته وایي.

ادغام: ادغام لغوي معني یو شي په بل شي کې داخلولوته وایي. اودعلم تجویدپه اصطلاح کې چي کله دساکن نون یاتنوین څخه وروسته د "یرملون " (ي،ر،م،ل،و،ن) دتوروڅخه کوم یوراشي نوهلته ادغام کیږي اوداډول ادغام دوه ډوله دي غنه لرونکي اوبې غني

الف : **غنه لرونکي ادغام** : که دساکن نون اوتنوین څخه وروسته دیمنو (ي،م،ن،و) له توروڅخه کوم توري راشي غنه لرونکي ادغام پکې کیږي.

لکه : مَنْ یَهْدي ، مِنْ مالٍ ، قَرارٍمَکینٍ ، مَنْ وُجِدَ ، یَوْمَئِذٍواجِفَة ، عَنْ نَفْسٍ ، شَيءٍنُکُرٍ.

ب : **بې غني ادغام**: که دساکن نون یاتنوین څخه وروسته د لر (ل،ر) کوم توري راشي بې غني ادغام پکې کیږي. لکه : اِنْ لَبِثْتُمْ ، مَتاعاًلَکُمْ ، مِنْ رَبِّکُمْ ، مَثَلاًرَجُلاً.

اقلاب: اقلاب په لغت کې یو شي په بل شي بدلولوته وایي اودعلم تجویدپه اصطلاح کې که ترساکن نون اوتنوین وروسته د(ب) حرف په کومه کلمه کې راشي نوتنوین یاساکن نون په میم بدلیږي لکه : مِنْ بَعْدِ ، مِمْ بَعْدِ، سَمِیعٌ بَصِیرٌ

اخفاء : اخفاء په لغت کې پټولوته وایي اودعلم تجویدپه اصطلاح کې داظهار،ادغام اواقلاب له حروفوڅخه پرته دهجاء نوروپنځلسو (ت،ث،ج،د،ذ،ز،س،ش،ص،ض،ط،ظ،ف،ق،ک) توروڅخه یوتوري دساکن نون یاتنوین څخه وروسته راشي نودغُنې سره اخفاء پکې کیږي.

لکه:		یوه کلمه	دوې کلمې	تنوین
ت	:	اَنْتُمْ	وَاِنْ تُبْتُمْ	یَوماًتُرْجَعُونَ
ث	:	مِنْ ثَمَرَةٍ	مِنْ ثَمَرَةٍ	خَیرٌثَواباً
ج	:	اَنْجَیْنَا	اِنْ جَائَکُم	لِکُلٍّ جَعَلْنا
د	:	عُنْدَهُمْ	مِنْ دارِهِم	قِنوانٌ دانِیَةٌ
ذ	:	اَنْذِرْهُمْ	مِنْ ذُرِّیَّةٍ	یَتِیماًذَامقرَبَةٍ
ز	:	اَنْزَلَ	مَنْ زَکیَّها	نَفساًزَکِیَّةً

س	:	اِنْسانٌ	اَن ْسَيَكُونُ	لَيالٍ سَوِيّاً
ش	:	اَنْشَأْنا	مِنْ شَرِّ	غَفُورٌشَكُورٌ
ص	:	يَنْصُرُكُمْ	اَن ْصَدُّوكُم	رِيحاًصَرصَراً
ض	:	مَنْضُودٍ	مِنْ ضَعفِ	قَوماًضالِّينَ
ط	:	قِنْطارٍ	مِنْ طِينٍ	صَعِيداًطَيِّباً
ظ	:	اُنْظُر	مَنْ ظَلَمَ	ظِلّاًظَلِيلاً
ف	:	اَنْفُسَهُمْ	مِنْ فَضلٍ	خالِداًفِيها
ق	:	يَنْقَلِبُ	مِنْ قَبلِ	سَمِيعٌ قَرِيبٌ
ک	:	عَنْكُمْ	مَنْ كانَ	قَولاًكَرِيما

يوولسمه لمعه :

مــد :

مد : مد په لغت کې اوږدولو او کشکولو ته وايي او په اصطلاح کې په حروف مده او حروف لين باندي د آواز اږدولو ته مد وايي . او حروف مده دري دي (الف ،واو ،يا) کله چې ساکن وي او ماقبل حرکت يي د خپل جنس څخه وي لکه «قال ، قالوا ، قيل» اوحروف لين دوه دي (واو ، يا) کله چې ساکن وي او ماقبل يي مفتوح وي

لکه « مِّنْ خَوْفٍ ، ووَالصَّيْفِ »

مد په دوه قسمه دي

الف : مد اصلي ب : مد فرعي

مد اصلي : (مالم يوقف بسبب واحد)يعني هغه مد ته وايي چې په کوم سبب باندې ولاړ (موقوف) نه وي يا چي د حرف مده نه وروسته همزه يا سکون نه وي راغلي

لکه « قَالَ ، يَقُولُ ، قِيلَ ، الَّذِي »

مد فرعي : هغه مد ته وايي چې په کوم سبب باندې موقوف او ولاړ وي که چيرې مد فرعي اداء نه شي د حرف ذات ورسره نه ختميږي بلکه د کليمې چې کوم زينت او ښايست دي هغه ورسره له منځه ځي

يا هغه مد دي چي د حروف مده نه ورسته همزه يا سكون راغلي وي لكه : (وَسَوَاءٌ ، قَالُوا ، آمَنَّا)

د مد اسباب :

د مد اسباب مده حروف دي او همدارنګه محل يي همزه او سكون دي.

مد فرعي اجمالا په څلور قسمه دي

١ : مد اصلي (واجب) ٣ : مد لازم كليمي مثقل

٢ : مد منفصل (جائز) ۴ : مد لازم كليمي مخفف

مد فرعي تفصيلا په نهه قسمه دي چې عبارت دي له :

١ : **مد متصل** : هغه مد ته وايي چې د حرف مده څخه وروسته همزه په يوه كلمه كي راغلي وي لكه : (شَآءَ ، جَآء ، أَلْمَلٰئِكَةِ ، سِيئَتْ)

٢ : **مد منفصل** : منفصل مد هغه مد ته وايي چې د حرف مده څخه وروسته همزه په جدا كلمه كې رغلي وي لكه : (مَآأُنْزِل ، اِنَّآأَوْحَنَآإِلَيكَ ، قَالُوا آمَنَّا)

٣ : **مد لازم كليمي مثقل** : هغه مد ته وايي چې د حرف مده څخه وروسته په يوه كلمه كي مشدد حرف راغلي وي لكه : (وَلَاالضَّآلِّينَ ، اَلْحَاقَّةُ ، دَابَّةٍ)

۴ : **مد لازم كليمي مخفف** : هغه مد دي چې په يوه كلمه كې د حرف مده څخه وروسته اصلي او لازمي سكون راغلي وي لكه . (آلْآنَ)

۵ : **مد لازم حرفي مثقل** : عبارت دي هغه مد څخه دي چې په حروف مقطات كي د حرف مد څخه وروسته مشدد حرف راغلي وي لكه . (الٓمّ)

۶ : **مد لارم حرفي مخفف** : عبارت دهغه مد څخه دي چې په حروف مقطعاتو كي د حرف مد څخه وروسته سكون راغلي وي لكه (. ن ، ص ، ق)

٧ : **مد لين لازم** : هغه مد ته وايي چې په حروف مقطعاتو كې د حرف لين څخه وروسته سكون اصلي راغلي وي لكه : (كهيعص ،حم ، عسق).

۸: **مد لین عارضي** : هغه مد ته وايي چې د حرف لین څخه وروسته عارضي سکون راغلي وي يعنې د وقف په سبب ساکن شوي وي لکه مِّنْ خَوْفٍ ، وَالصَّيْفِ

۹: **مد عارض وقفي** : هغه مد ته وايي چې د حروف مده څخه وروسته سکون عارضي راغلي وي لکه : (أَلْعَلَمِينَ)

د مدونو مقدار یا کیفیت :

د مد مقدار په دري ډوله دي :

۱- **طول** (يو الف په اندازه) ۲- **توسط** (دوه نيم الفه) ۳- **قصر** (د دريو نه ترپنځو الفو په اندازه)

د مد متصل او مد منفصل مقدار توسط دي چي د توسط اندازه دوه نيم الفه ده او په منفصل کي قصر هم جائز دي چي د قصر مقدار د يو الف په اندازه دي .

لازم کليمي مثقل ، لازم کليمي مخفف ، لازم حرفي مثقل ، لازم حرفي مخفف په دي څلور واړو کي طول کيږي چي د طول مقدار د دري الفو نه تر پنځو الفو پوري دي .

دلين لازم مقدار طول توسط او قصر دي او په عارض لين کي په اوله درجه کي قصر ، توسط او بيا طول کيږي .

د حروفو ا قسا م :

الف : **عام حروف** : عبارت د هغه حروفو څخه دي چې د هغې په مفهوم ټول خلک پوهيږي

ب : **مقطعات حروف** : دا هغه حروف دي چې د بعضو سورتونو په سرونو کې راغلي وي او په مفهوم يي يوازي الله تعالي پوهيږي ددي حروفو مجموعه عبارت ده له: (نقص عسلکم حي طهرا) (ن ، ق ، ص ، ع ،س، ل ، ک ، م ، ح ، ي ،ط،ه ، ر،ا)

په(نقص عسلکم): کي مد فرعي کيږي او په (حي طهرا)کي مد اصلي کيږي

دوولسمه لمعه :

د همزي قاعدي :

دهمزي بنيادي اقسام دوه دي . ۱ : تسهيل ۲: حذف

تسهیل په لغت کي اساني ته وايي او په اصطلاح د مجویدینو کي همزه د خپل مخرج او د الف د مخرج په منځ کي ادآء کولو ته وايي او د حذف معنی ساقطول او لریکول دی

همزه په دوه ډوله ده   الف - همزه اصلي   ب - همزه زائده

همزه اصلي هغه ده چي په مقابل د (ف، ع ، ل) کي راغلي وي لکه : امر ، سآل ، قرأ

همزه زائد هغه همزه ده چي په مقابل د (ف ، ع ،ل)کي نه وي راغلي چي په دوه ډوله ده
الف: قطعي همزه   ب : وصلي همزه

همزه قطعي هغه همزه ده چي په هر حال کي نه حذفیږي لکه (الْحَمْدُ ، إِيَّاكَ)

همزه وصلیه : هغه همزه ده چي د وصل په حالت کي حذفیږي لکه (وَقَالَتِ الْيَهُودُ)په ټول قرآن کریم کي یو ځاي تسهیل راغلي دي چي په څلورو یشتمه سپاره کي ده

لکه (أَأَعْجَمِيٌّ) د حذف مثال (بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ)

په حورفو کي د ال د تعریف واله همزه وصلیه ده او دا د همیشه لپاره مفتوحه ویل کیږي او په اسماءوکي د اوو اسمونو همزي وصلي دي چي نومونه یي دادي

اسم ، ابن ، ابنة ، امرآة ، امرآ ، اثنان ، اثنتان اودا همزي د همیشه لپاره مکسوري وي او په افعالو کي د باب افعال نه غیر نوري ټولي همزي وصلي دي او ددي همزي د حرکت متعلق تفصیل دا دي چي چیرته د همزي سره د فعل دریم حرف مضموم (پیښ ولري)وي په ضمه اصلي سره نوبیا ته همزه مضمومه وي لکه اقتلو ، اذخلو اوکه چیرته د همزي سره دریم حرف مکسو(زیر ولري) وي

لکه : (اضرب ، افعل ، اتقو،)

اجتماع همزتین حکم : (چي دوه همزي یو ځاي راشي)

کله چي دوه همزي یو ځاي راشي دواړه قطعي وي نو دواړه په تحقیق سره اداء کیږي لکه : (أَأَنذَرْتَهُمْ) مګر لفظ د (ءاعجمي) ورنه استثناء دي په دي لفظ کي په دوهمه همزه کي تسهیل کیږي او د امام حفص په روایت کي چي زمونږ د قرئت امام دي په ټول قرآن کریم یو ځاي تسهیل راغلي دي چي تسهیل واجب ورته وايي .

همزه تفصيلي په پنځه قسمه ده

اول : چې دواړه همزي متحركي قطعي وي لكه (أَأُنزِلَ) نو په تحقيق سره اداء كيږي

دوهم: چي دواړه متحركي وي په داسي حال كي چي اوله يي قطعي او دوهمه يي مفتوحه وي دويمه دحركت په وخت كي په حرف مده سره بدليږي لكه (ءالله ،ءالئن)

دريم : چي دواړه متحركي وي په داسي حال كي چي اوله يي متحركه قطعي او دوهمه يي ومتحركه وصلي مكسوره وي نو په دي صورت كي دوهمه همزه حذف كيږي او ددي قاعدي مطابق په ټول قرآن كي ٧ لفظونه دي

لكه ((افْتَرَىٰ، أَسْتَكْبَرْتَ أَصْطَفَى الْبَنَاتِ اتَّخَذْتُ أَتَّخَذْنَاهُمْ أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَسْتَغْفَرْتَ))

څلورم : چي اوله همزه متحركه قطعي او دوهمه ساكنه وي نو دوهمه همزه د اولي همزي حركت موفق په حرف مده سره بدليږي لكه (آمَنَ ، أَيْمَانٌ)

پنځم : چي اوله متحركه وصلي او دوهمه ساكنه وي نو په دي صورت كي كه چيري ابتداء د كليمي نه كيږي نو بيا د ابتداء په صورت كي دوهمه همزه د اولي همزي د حركت مطابق په حرف مده سره بدليږي .لكه (اؤْتُمِنَ) او كه چيرته ددي كليمي د ماقبل كليمي سره وصل كيږي نو په دي صورت كي همزه وصليه د قاعدي موافق حذف كيږي او دوهمه همزه د اولي كليمي د آخري حرف د حركت موافق په تحقيق سره ويلاي شي لكه (الَّذِي اؤْتُمِنَ السَّمَاوَاتِ ائْتُونِي)

تنبيه : په صورت حجرات كي په لفظ د بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ چي په اصل كي بئس الاسم الفسوق وچي په دي كي حذف د همزو وصليو شوي دي او له همزي د ان دوهمه د اسم دريمه د الفسوق نو په دي صورت كي د اجتماع ساكنين په وجه د الاسم واله لام په كسري متحركي شوي دي ځكه چي اساكن اذاحرك حرك باالكسره نو بئس لسم الفسوق ويل كيږي .

د اولي قاعدي حكم تسهيل او د دوهمي قاعدي حكم تسهيل او ابدال او د دريمي قاعدي حذف او د څلورمي قاعدي حذف او ابدال او د پنځمي قاعدي حذف او ابدال دواړه دي

د الف او همزي تر منځ فرقونه :

الف همیشه مده وي او همزه هیڅکله مده نه شي راتلاي .

الف همیشه ساکن وي او همزه کله ساکنه او کله متحرکه راځي .

الف نرم او غیر له جتهکي نه تلفظ کیږي او همزه ساکنه له جتهکي سره تلفظ کیږي .

الف د کلیمي په سر کي نه شي راتلاي په منځ یا آخر کي راځي خو همزه په سر کي هم راتلاي شي

دیارلسمه لمعه :

وقف :

وقف په لغت کي په معني د ودریدلو او منع کولو سره راځي او په اصطلاح کي داسي تعریف لري(قطع الصوت مع النفس واسکان المتحرک ان کان متحرکا) یعني قطع کول د آواز دي سره د تنفسه معني دا چي ساکن کول د متحرک حرف هغه وخت کي چي هغه متحرک وي .

یا (ترک الحرکة مع الصوت زماناً)ترک کول د حرکت دي سره د اوازه په لږه زمانه کي

په معرفة الوقوف کي په دوه شیانو باندي بحث کیږي .

اول : کیفیت وقف

دوهم : محل وقف

د کیفیت وقف څخه مقصد د وقف کولو طریقه او قاعده پژندنل دي همدارنگه باید دا هم وپژندل شي چي په کومو کلیمو باندي په څه ډول باید وقف وشي .

او د محل وقف څخه مطلب دا دي چي د وقف کولو محل او ځاي سړي وپژني يعني چي په کومي کليمي باندي وقف او په کومي کليمي باندي وصل وشي .

وقف د کيفيت په لحاظ په پنځه قسمه دي :

اول : وقف بالاسکان دريم : وقف بالروم

دوهم : وقف بالاشمام څلورم : وقف بالابدال پنځم : وقف بالسکون

وقف بالاسکان ديته وايي چي آواز او ساه دواړه قطع شي او موقوف عليه بالکل ساکن شي او دا وقف په دري واړو حرکاتو کي کيږي لکه « الْعَالَمِينَ، نَسْتَعِينُ ، ، مِن نَّذِيرٍ ، قَدِيرٌ »

وقف بالاشمام داوقف صرف په ضمه کي کيږي لکه « نَسْتَعِينُ ، عَلِيمٌ »

وقف بالروم د حرکت دريمه برخه ظا هريږي او په هغه کليمه کيږي چي زير ولري

لکه « يَوْمِ الدِّينِ ، مِنَ النَّارِ ، » او په فتحه کي نه کيږي .

وقف بالابدال په موقوفه کليمه کي يو حرف په بل حرف باندي بدليږي او دا وقف په دوه ځايونو کي کيږي

الف : داچي موقوف عليه د دوو زبرو تنوين وي لکه « مَّشْكُورًا ، خَبِيرًا ، بَصِيرًا »

دلته دغه دوه زبره په الف باندي بدليږي او دوهم ځاي دا دي چي موقوف عليه تاي مدوره(گرده ة)وي لکه « مُّطَهَّرَةً ، طَيِّبَةً ، الْبَيِّنَةُ ، الصَّلَوٰة ، وَرَحْمَةً »

دلته دغه گرده (ة) په (ه) سره بدليږي لکه : (مُّطَهَّرَه، طَيِّبَه ، الْبَيِّنَه ، الصَّلَوٰاه ، وَرَحْمَه)

وقف بالسکون : دا وقف په هغه وخت کي کيږي چي موقوف عليه د مخکي نه ساکن وي لکه « فَحَدِّثْ ، وَانْحَرْ ، عَلَيْهِمْ »

په قرآنکريم کي څو کلمات داسي دي چي د هغي په آخرکي الف ليکل شوي دي خو د ا الف نه په وصل او نه په وقف کي لوستل کيږي چي هغه کلمات په لاندي ډول سره دي .

« وَلْيَعْفُوا نور ۲۲، لِّتَتْلُوَاْ عَلَيْهِمُ رعد ۳۰، لَن نَّدْعُوَ کهف ۱۴، لِّيَرْبُوَا روم ۳۹ ، قَوَارِيرَا انسان ۱۵ او څو نور

د کلام د تماموالي او نا تماموالي په اعتبار سره وقف په څلور قسمه سره دي

۱- وقف تام ۲- وقف کافي ۳- وقف حسن ۴- وقف قبیح

وقف تام : هغه وقف ته وايي چې په داسي کلیمي سره وقف وشي چې د هغي کلیمي د ما بعد سره نه لفظي اونه معنوي تعلق وي لکه هُمُ الْمُفْلِحُونَ ، هُمُ الظَّالِمُونَ ددي ايت تعلق د مابعد سره نه لفظي اونه معنوي شته ځکه وروسته « إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا» د کفارو حال شروع کیږي او په « الْمُفْلِحُونَ » باندي د مؤمنانو حال ختمیږي

وقف کافي : دیته وايي چې په داسي ځاي باندي وقف وشي چې دمابعد سره لفظي تعلق نه وي خو معنوي تعلق وي لکه د سورة بقرة ۶ آيت په آخره چې وقف وشي « أَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ – خَتَمَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ » ځکه چې په ﴿لَا يُؤْمِنُونَ﴾ وقف وشي د مابعد سره يي لفظي تعلق نشته لکن معنوي تعلق يي شته ځکه چې وروسته هم د کفارو بحث دي .

وقف حسن : دیته وايي چې په داسي ځاي باندي وقف وشي چې د ما بعد سره يي معنوي تعلق نه وي خو لفظي تعلق يي وي لکه « الْحَمْدُ لِلَّهِ » جمله پوره ده خو د

(رَبِّ الْعَالَمِينَ)سره لفظي تعلق لري دي

وقف قبیح : هغه وقف ته وايي چې د مابعد سره لفظاًاو معناً تعلق ولري

لکه : وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا ،

دوقف علامي :

داډيره ضروري ده چې دقرآنکریم لوستونکي دوقف د نښو اوعلامو پوره خیال وساتي هغه نښي او علامي چې مجویدينو او علماوُ تعین کړيدي عبارت دي له :

ترټولو قوي علامي چې وقف پکي ضروري دي دادي ﴿ط ، ج ، م ، ل ﴾.

م : دوقف لازم علامه ده وقف کول ضرور دي په نه کولو يي په معني کي خلل دي

ط : دادوقف مطلق نښه ده يعني د وقف کول غوره دي په نسبت د نه کولو .

ج : دوقف کافي علامه ده وقف کول غوره دي اونه کول يي جايزدي.

ز : دوقف جائز ،حسن علامه ده وقف او وصل دواړه جائزدي خو وصل بهتر دي

ص : دمرخص وقف علامه ده که آیت اوږدؤ لوستونکي ته اجازه ده چي ساه واخلي

صل : دلته د وقف په نسبت پیوست لوستل غوره دي .

ق : دلته وقف جائز دي خو غوره نه دي .

صلي : یعني وصل وکړه

قف : دودریدو نښه ده یعني وقف وکړه

لا: کچري دا علامه د آیت په اخر کي راغلي وه وقف ورباندي جائز دي مگر که دآیت په منځ کي راغلې وه وقف جائز نه دي ځکه دآیت په منځ کي وقف قبیح دي

ک: (کذالک) دلته وقف جائز دي خو بهتر نه دي یا (مخکي چي کوم وقف و همغه شان دا هم دي)

∴ : معانقه یعني یوبل ته غاړه ورکول چې پریودریدل اوپربل نه دریدل پکاردي

قل : یعني یو ځل وقف وکړه بیا وصل وکړه چي وقفه د دوه الفو په اندازه کیږي

څوارلسمه لمعه :

د غنه، ابتداء ، اعاده ، سکته ،او هاي ضمیر بیان :

غنه :

لکه څنګه چي مخکې تیر شول د خشیوم نه چې کوم آواز خارجیږي هغې ته غنه ویل کیږي اوس غنه په دوه قسمه ده :

الف : غنه آني ب : غنه زماني

د آني او زماني غنې حرف په میم او نون پورې خاص دي

غنه آني د نون او میم لپاره لازمي صفت دي او په هر حال کې پکې موندل کیږي که ته وغواړي او کنه نو دا صفت ستا له ارادي پرته پکې اداء کیږي او غنه زماني ستا له ارادې پرته نه اداء کیږي

غنه زماني په ميم او نون كې په بعضې حالاتو كې راځي لكه څنګه چې مخكې د نون ساكن اوتنوين په احكامو كې تير شول .

ابتدآء : ابتداء ديته وايي چي د مابعد څخه شروع وكړي

اعا ده : اعاده ديته وايي چي د ماقبل دوباره ولوستل شي ددي پڅندل ځكه ضروري دي چي د وقف كولو څخه وروسته په بعضي حالاتو كي قاري د مابعد څخه شروع كوي(ابتدآء) او په بعضي حالاتو كي د ما قبل څخه (اعاده) كوي .

سكـــته :

سكته د چوپوالي په معني سره راځي او په اصطلاح كي سكته ديته وايي چي بي غير دساه اخيستلو څخه آواز د لږ وخت لپاره قطع كول دي .

په ټول قرآنكريم كي د حضرت امام حفص (رح) په روايت څلور ځايه سكته راغلي .

١ : د سورة كهف په اول آيت كي « وَلَمْ يَجْعَل لَّهُ عِوَجًا... »

٢ : د سورة ياسين په ٥٢آيت كي « مِن مَّرْقَدِنَا ...هَٰذَا... »

٣ : د سورة قيامة په ٢٧ آيت كي « وَقِيلَ مَنْ... رَاقٍ »

٤ : د سورة مطففين په ١٤ آيت كي « كَلَّا بَلْ ... رَانَ »

په ٣ او ٤ صورتونو كي د نون او لام ادغام په (را)كي د سكتي له وجهي نه نه كيږي

په ټول قرآنكريم كي ۴ ځايونه داسي راغلي دي چي هلته ص او س ليكل شوي دي خو په بعضي كي(س) او په بعضي كي (ص) او(س) دواړه لوستل كيږي اوهغه لفظونه دادي .

((وَيَبْسُطُ ، بَسْطَةً)): په دي دواړو لفظونو كي د (ص) په ځاي (س)لوستل كيږي .

((بِمُصَيْطِرٍ)) : په دي كي صرف (ص) تلفظ كيږي

((أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ)): په دي كي د (ص) او (س) دواړوتلفظ جائز دي

اول : بقره ۲۴۵ ، دوهم: اعراف ۶۹ ، دریم: غاشیه ۲۲ ، څلورم: طور ۳۷

قطــع :

قطع په لغت کي پري کولو ته وايي او په اصطلاح کي د قرآئت ختمولو ته قطع وايي دا هم د سکتي په شانته د وقف دمتعلقاتو څخه ده .

د وقف او قطعي تر منځ فرق دادي چي په وقف کي د وقف نه وروسته د قرآئت اراده موجوده وي او په قطع کي بيا ورسته د قرآئت اراده نه وي موجوده او په همدغه ځاي سر ه ختميږي نو قطع په داسي ځاي کي کول پکار دي چي يا سورة ختمه شي او يا د سورة په منځ کي يوه واقعه ختمه شي يا په داسي آيت باندي قطع وشي چي د ما بعد سره لفظي او يا معنوي تعلق ونه لري او د وقف په علاماتو باندي قطع جواز نه لري .

ها ي ضمير:

هاي ضمير څلور قاعدي لري چي دوي يي د حرکت په هکله دي او دوه نوري يي د صله يا عدم صله په هکله دي

اول : که چيري د هاي ضميرڅخه مخکي کسره يا ياي ساکنه راغلي وه نو هاي ضمير مکسور لوستل کيږي لکه (بِهِ إِلَيْهِ) مگر ددي قاعدي څخه څلور کلمات مستثني دي چي په دوه کليمو کي مضموم لوستل کيږي او په دوه نورو کليمو کي ساکن لوستل کيږي سره له دينه چي ما قبل يي مکسور دي په کومو کلماتو کي چي مضموم لوستل کيږي هغه دا دي (وَمَا أَنسَانِيهُ) په سورة کهف کي او (عَلَيْهُ اللَّهَ) په سورة فتح کي او په کومو کي چي ساکن لوستل کيږي هغه دا دي (أَرْجِه) او (فَأَلْقِهْ)

دوهم : که د هاي ضمير څخه ماقبل نه کسره وه او نه ياي ساکنه نو هاي ضمير مضموم لوستل کيږي لکه (وَأَخَاهُ .رَأَيْتُمُوهُ) مگر ددي قاعدي څخه يوه کلمه مستثني ده چي په هغه کي مکسور لوستل کيږي (وَيَتَّقْهِ) سورة نور کي په دي ها باندي همدغه دوه حرکته راځي يعني کسره او ضمه فتحهورباندي نه راځي

دريم : كه چيري د ها ضمير نه مخكي او وروسته دواړه متحرک و نو په هاي ضمير كي صله كيږي كه ماقبل يي مضموم ؤ نو صله د واو سره كيږ ي او كه ماقبل يي مكسور ونو صله د يا سره كيږي لكه ﴿أَفَمَن يَتَّقِي بِوَجْهِهِ سُوءَ الْعَذَابِ﴾ مګر يوه كلمه ددي قاعدي څخه مستثني ده چي هغه ﴿يَرْضَهُ لَكُمْ﴾ په سورة زمر كي دي سره ددي نه چي ماقبل او مابعد يي دواړه متحرک دي بيا هم صله نه كيږي.

څلورم : كه د هاي ضمير نه ماقبل او ما بعد دواړه ساكن ويا ما بعد يي فقط ساكن ؤ نو په دي دريو صورتونو كي په هاي ضمير كي صله نه كيږي لكه ﴿مِنْهُ الْمَاءُ ، وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ﴾ مګر په يوه كلمه كي يعني ﴿فِيهِ مُهَانًا﴾ ددي قاعدي څخه مستثني ده سره ددي چي ماقبل يي ساكن دي خو بيا هم صله كيږي

تمت بالخير

ليكـــــونكی : **قاري نــورخبر حليم** د ننګــر هـــــــار اسلامی پوهنتون د ليلپی مسـجد امـــام

ترتيب كوونكی : **ذكرالله شيـرزی راسپ** د شرعيا تـو پوهنځی د فقهې او قانون څا نګې د څلورم ټولګي محصل

كال : ۲۲ /۱۰/ ۱۳۹۱لمـريـز